ډاکترعبدالرحمن زمانی

د۲۰۱۹ کال د اپریل ۱۳

# له ایرو څخه سپرغۍ

## پر اماني دورې د مشهور کتاب د لیکونکي دافغانستان د سفر یوه خاطره

د «فایر این افغنستان» یا «اور په افغانستان کې» د مشهور کتاب لیکونکي « ریا تالي ستیوارت» د غازي امان الله خان د تاریخ د څیرني په ترځ کې افغانستان ته د ۱۹۶۷ کال د خپل سفر یوه خاطره په لاندې ډول لیکي :

د امریکې په کتابخانو کې امان الله خان دومره لږه پیژندل شوې څیره وه، چې د هغه په هکله د یوې ډراماتیکي دسیسې د غبټو غټو ټکو نه پرته په بل څه نه پوهیدم . زه له الوتکې ښکته کیدو سره سم پوه شوم چې د امان الله خان د کیسې د پاتې برخې تر لاسه کول څه آسانه کار نه دئ . کله چې افغانانو واوریدل چې زه څه لیکل غواړم، نو په ځیر به یې راته کتل او ویل چې "ښـه، نو خدای دې وکړي چې واقعیتونه بیان کړې ». ډیرو کسـانو وویل چې زه یو هیږم چې واقعیتونه - په هر حال، ددوې واقعیتونه – هیڅ کله ویل شـــوي نه دي. په لاره کې یوه ځوان ســـړي، چې زه یې له یوه کبرجن پولیس وژغورلم، وویل، «کله چې مې واوریدل چې بلاخره یو کس غواړي د امان الله خان په هکله څه ولیکي، نه به تصـــور ونکړې چې زما زړه څومره ټوپونه ووهل».

دا د جشن وخت ؤ، د هغې خپلواکۍ د لمانځلو ورځې چې امان الله خان د افغانستان د پاره ګټلې وه . سره له دې ما د امان الله خان نوم نه اوریدلو. ما د آتشـــبازۍ ننداره وکړه، او ددې ننداري په وروســتۍ چاودنه کې یو کوچني بیرغ په هوا کې ولیدل شـو چې د پراشوټ په ذریعه له هوا څخه کرار کرار ښـکته کیدو. په ځینو بیرغونو کې د ظاهرشـاه پاچا عکسـونه لیدل کیدل او په ځینو کې د هغه د پلار نادرشاه، چې ښکلې مقبره یې له ورایه ځلیدله، او هغه پاراشوټونه چې خلکو ورته په چک چکو سـره احسـاسـات ښـودل، د پښتونسـتان د بیرغ علامه، چې لمر د راختلو په حال کې لیدل کیده، معلومیدل . پښتونستان هغه سیمه ده چې بریتانویانو ورته آزاده سیمه ویله او افغانانو به تل ویل چې د دوی سیمه ده. خو په یوه بیرغ کې هم د امان الله خان عکس ونه لیدل شو . ما سوچ وکړ چې که د امان الله خان د عکس لرونکي بیرغ ناڅاپه په هوا کې څرګند شوي وای، د خلکو عکس العمل به څه وای .

د امان الله خان نوم تقریباً په بشپړه توګه د افغانستان د تاریخ د کتابونو څخه له منځه وړل شوې ؤ، خو په یوه خاوره کې چې هلته په لسو تنو کې یوازې یو تن سواد ولري، دې کار دومره فرق نه کاوه ، په بازارونو کې د خلکو پر ژبو، د هغو قبایلي خلکو پر ژبو ، چې د جشـــن ســیل ته راغلي وو، امان الله خان هغومره ژوندي ؤ، لکه څومره چې نورې افغاني تاریخي څیرې ژوندې وې. یوې بیســـوادې ښـــځې ماته وویل چې «امان الله خان زمونږ بهترین پاچا ؤ». که څه هم د بازار په ډیرو غرفو کې به د ظاهرشـــاه خورا لوې عکس ځوړند ؤ، خو ډیرو به د امان الله خان رســـم شـــوي وړوکي عکسونه هم ځړول .

زه په جلال آباد کې څو واري دده قبر ته لاړم، هغه د خپل پلار تر څنګ ښـــخ دئ ... هر ځلې چې ما له قبر څخه لیدنه کوله، یو تازه ګل به مې د امان الله خان او بل به مې د امیر حبیب الله خان پر قبر باندې لیدل، عنایت الله خان به لا د پامه غورځیده . زه یو ځلې په سپیده چاو کې لاړم، خلک په هغه ځای کې په دعا کولو بوخت وو، او ماته یې اشاره وکړه چې بوټان وباسم . دا د هغو قبایلو خلک وو چې امان الله خان یې له تخته غورځولی ؤ.

د امان الله خان د پیښو په هکله ټولو افغانانو یوه نظریه درلوده، هغه دا چې انګریزانو په لوی لاس دسیسه جوړه کړه چې د هغه له شره څخه ځان خلاص کړي .

کله چې زه لندن ته د هندی دفتر کتابخانی ته لاړم چې دهغه وختونو اسناد مطالعه کړم، ما تمه درلوده چې هغه لیک به ووینم چې : «راځی چې د امان الله خان له شره څخه ځان خلاص کړو» .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنی د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خو ما په داسې آسانۍ سره هيڅ شی تر لاسه نکړل . د آرشيف نفر راته خبر داری راکړ چې« دجاسوسۍاو هر هغه شی په باره کی چی شخص يا هيواد ته تاوان ور سوی»، هيڅ سند هم د محرميت څخه آزاد شوی نه دئ . په حقيقت کی ما د جاسوسانو ډير رپوټونه پيدا کړل، د جاسوسی د طريقو په هکله مې ډيرې پټې کتنې او ډير داسې اسناد هم پيدا کړل کوم چی « د رازرسيدلو معلوماتو له مخی» په زړه پورې جملې پيل شوي وو. تر کوم ځايه چې د زيان رسوونکو اسنادو په مخنيوې پورې اړه لري، نو دا يوازې په انګريزانو پورې مربوط وو، نه په نورو ملتونو پورې .

کومه کيسه چې ماته څرګنده شوه، له هغې کيسې څخه زيا ته غولوونکې او ماهرانه وه، چې ما يې توقع درلوده . ما وليدل چې بريتانويانو څرنګه امان الله خان، پرته له دې چې پوه شي، له منځه وړلای شو. او وروسته، کله چې په ويتنام کې د امريکې د لاس وهنې په هکله د پنتاګون اسناد بر ملا شول، د ويتنام د جمهور رئيس «انګو دن ديم» سره مې د موضوع مشابهتونه وليدل .

کله چې ما د خپلې څيړنې په هکله له يوه پوه افغان سره بحث وکړ ، هغه فکر نه کوو چې ما د موضوع ټول اړخونه راخيستي وي . هغه مسلمه ګڼله چې هيڅ يو ملت به د خپلې ډيرې بې اعتبارۍ لمنه دومره زياته اوچته نکړي . زما د موادو د اساسي شيانو د لټون نه وروسته هغه د پيښو مختلفه ترجمه ليدله . د انګريزانو په پيشګويې کې د امان الله خان د تلواره ډک اصلاحات د هغه د سقوط معنی ورکوله ، هغه داسې شواهد ليدل چې انګريزانو د امان الله خان د دغه نسکورولو دسيسې جوړولې . او دا هغه نتيجه ګيري وه چې د روسانو د استخباراتو اداري هم لا پخوا د هغو اسنادو له مخې کړې وه، کوم چې دوی په پټه تر لاسه کړي وو. په ۱۹۳۰ کال کې په کابل کې د روسانو د جاسوسۍ د استاد جورج آقابکوف چاپ شوي خاطرات هغه مشخص اسناد ذکر کړي کوم چې ما وپيژندل ، سره لدې چې دا اسناد تر ۱۹۶۸ کال پورې لوستلو ته تيار نه وو.

پر دې برسيره زما افغاني دوستانو وويل، د کومو افغانانو نومونه چې ما په دسيسه کې ياد کړي دي، يو تن يې هم پرته له دې چې په بهر کې طرحه شوي وي، د داسې پروژې د لاربنوونې قابليت نه درلود .

(پای)

## ماخذ


Rhea Talley Steward: Fire in Afghanistan 1914-1929 (2nd Edition). ISBN-13: 978-0595093199 ISBN-10: 0595093191 (Pages 581-582).







ريا تالي ستيوارت په باميانو کې




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ